AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۳/۳۰

# ناکامه مینه

اوس ستا له کلی د غمو سره ځم
د ناکامۍ د افســـــانو سره ځم

د ډکو سترګو د زخمی زړه سره
د خپل د او ښکو دریابو سره ځم

ناکامــــه مینه می شوه پاتی دلته
د رســــوایي د انګازو سره ځم

ستا په هوا ومه ژوندی په دنیا
اوس د بیلتون د اندیښنو سره ځم

زه بد نصـــــــیبه ددي کلی ښځه
د جفا ګانو دروند بارو سره ځم

ډیر تیر یادونه می په زړه پراته دي
چی خپل دفتر د خاطرو سره ځم

پس له عمرونو ارمانجن له کلي
د خپل احســـاس د غلبلو سره ځم

په یو دیدن دي راته ژوند وبښـــه
که نه زه خوار د ارمانو سره ځم

خیر دی که زه یم یک تنها په سفر
خو ستـــــــا د میني ترانو سره ځم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ